مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۱۰/۲۴

# زه نارمل یم!

ـ او هو رښتيا زه بالکل نارمل يم!

خو نا؛ ودرېږه!

نارمل نه يم، تر سهاره ويده کېږم، نو دا خو نارمل شوم که نه؟!

مګر د کټ څنګ ته مې اينبي د خوب ګولۍ بيا کومه کيسه بيانوي؟

زه چې دوه درې ورځې ويده شم او بيا پاڅېدو سره اينه وګورم، يو څه مې دننه چيغې کړي چې: زياتي بس ده!!

خو زه د سترګو لاندې جوړې شوې حلقې ووينم او له اذيت ډکې موسکا سره زړه ته ووايم چې: درځه! نن به بيا پوره ورځ د ځان نارمل ښودلو اداکاري را له غاړې ده.

زه اوږدې شپېې د اوبو نلکې ته ودرېږم او خدای خبر چې د اوبو ځاځکو کې څه ګورم؟ وايم: نارمل يم، خو شايد نه!

اصلاً زه هيڅ نه پوهېږم، چې څنګه يم؟ او ضروري يې هم نه ګڼمه!

ژباړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ